# د لـوړو زده کـړو اونیزه

# هفته نامه تحصیلات عالی

(۲٤۱) ګڼه - ۱۰ کال - غبرګولی - ۱٤۰۲ هـ.ل


## د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته ترسره شوه

د لـوړو زده کـړو وزارت رهـبري شـورا ناسـته، د دغـه وزارت سرپرسـت وزیـر شـیخ الحدیـث مولـوي نـداء محمـد ندیم صاحب په مشرۍ تر سره شوه.
د ناسـتې پـه پیـل کـې د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر د رهـبري شـورا لـه غـړو وغوښـتل چـې پـه اصـولي چـارو کـې لـه خلکـو سره اسـاني وکـړي، کارونـه یـې پـه خپـل وخـت او ژر خـلاص کـړي. نومـوړي د معیارونـو پـر مراعاتولـو ټینـګار وکـړ او رئیـس صاحبانـو تـه یـې وویـل: «کـه چېـرې مکتوبونـه او اسـتعلامونه د خلکـو کارونه ځنډوي، نو له یو بل سره نیږدې کېنئ او د خلکو چارې ژر خلاصې کړئ.»

وروسـته لـه اجنـډا سره سـم د شـورا غـړو لـه لـوري د پوهنتونونـو د پـولي صلاحیـت، د رسـمي مراسـلاتو د فارمـټ، د هغـو محصلانـو سرنوشـت پـه اړونـد چـې خـلاف پوهنځیـو تـه جـذب شـوي دي، د تخصصاتـو ریاست اړوند چـې پـه مسـتقل ډول او کـه د کـوم معینیـت تـر چـتر لانـدې فعالیت وکـړي او یـو شـمېر نـورو موضوعاتو باندې بحث او لازمې پرېکړې وشوې.

## نشست شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی برگزار شد

نشسـت شـورای رهـبری وزارت تحصیـلات عالـی بـه ریاسـت شـیخ الحدیـث مولـوی نـداء محمـد ندیـم صاحـب سرپرست این وزارت برگزار شد.
سرپرسـت وزارت تحصیـلات عالـی در اغـاز ایـن نشسـت از اعضـای شـورای رهـبری خواسـت، در امـور اصولـی بـا مـردم تسـاهل و کارهـای شـان را بـه وقـت و سریـع خـلاص نمایـد، موصـوف بـر رعایـت معیارهـا اصرار نمـود و بـه روؤسـا گفـت اگـر مکاتیـب و اسـتعلام هـا کار مـردم را بـه تأخیـر مـی انـدازد، بـه یـک دیگـر نزدیـک بیشینید و امور مردم را سریع خلاص نماید.
سـپس روی اجنـدا توسـط اعضـا شـورا رهـبری صلاحیـت پولـی پوهنتـون هـا، فارمـت رسـمی مراسـلات، بـه رابطـه سرنوشـت محصـلان کـه بـه خـلاف پوهنځـی جـذب شـوند، در رابطـه ریاسـت تخصصـات کـه بـه شـکل مسـتقل یـا زیـر تحـت کـدام معینیـت فعالیـت خـود انجـام بدهـد و یـک تعـداد موضوعـات دیگـر مـورد بحـث و تصمیمات لازم اتخاذ نمود.

## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د روسیې فدراسیون د تاتارستان په جمهوریت کې د روسیې او پاکستان هېوادونو د لوړو زده کړو وزیرانو سره وکتل

لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر د پوهنې وزیرانو نړیوال فورم په څنده کې د روسیې او پاکستان هېوادنو د لوړو زده کړو وزیرانو سره په جلا جلا ناستو کې وکتل .
په دغه ناستو کې د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب او د یادو هېوادونو وزیرانو د علمي او اکاډمیکو برنامو په پراختیا، تحصیلي بورسونو، مشترکو علمي سمینارونو، افغان نړیوال پوهنتون او کابل پولي تخنیک پوهنتون سره د همکاریو، سکالرشپونونو او پر یو لړ نورو برخو خبرې وشې.
د یادونې وړ ده چې دغه کنفرانس د روان زیږدیز کال له ۷ تر ۱۰جون نېټې پورې به دوام ولري، چې د افغانستان په ګډون د نړۍ د ۲۰ هېوادونو د ښوونې او روزنې برخې وزیران په کې ګډون کړی دی .

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی در حاشیه کنفرانس فورم تاتارستان با وزرای تحصیلات عالی روسیه و پاکستان دیدارنمود

سرپرست وزارت تحصیلات عالی درحاشیه اشتراک در فورم بین المللی وزیران معارف فدراتیف روسیه درجمهوری تاتارستان طی نشست های جداگانه با وزرای تحصیلات عالی روسیه و پاکستان دیدارنمود.
شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دیدار با وزرای تحصیلات عالی کشور های یاد شده در رابطه به انکشاف برنامه های علمی، بورسیه های تحصیلی، سمینار های علمی مشترک، همکاری با پوهنتون اسلامی بین المللی افغان و پوهنتون پولی تخنیک کابل و یک سلسه موضوعات دیگر گفتگو نمود.
شایان ذکر است که در این کنفرانس به شمول افغانستان وزرای تعلیم و تربیه ۲۰ کشور دیگر نیز اشتراک نموده اند ، کنفرانس یاد شده از تاریخ ۷ تا ۱۰ جون سال روان دوام خواهد داشت.

## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د اروپایي هېوادونو د مسلمانانو د مساجدو، مکاتبو او مدارسو ټولنې له استازو سره وکتل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب په خپل کاري دفتر کې د اروپایي هېوادونو د مسلمانانو د مساجدو، مکاتبو او مدارسو ټولنې له استازي سره وکتل.
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر یاد پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ، د هغوی له نېک نیت او اخلاص څخه مننه وکړه. نوموړي د ا.ا.ا د حریت او همدارنګه د تحصیلي نظام په اړه معلومات ورکړل او په تحصیلي ډګر کې یې یو شمېر ستونزې او اړتیاوې ورسره شریکې کړې.
دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د هېواد د تحصیلي بنسټونو د لابراتوارونو د تجهیز، د معیاري ودانیو جوړولو او د ټکنالوژۍ په برخه کې له یاد پلاوي څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.
وروسته د اروپایي هېوادونو د مسلمانانو د مساجدو، مکاتبو او مدارسو ټولنې استازي شیخ پروفیسور جوهري او ورسره مل پلاوي په تحصیلي ډګر کې د افغانستان پر پرمختګ ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه چې افغان محصلینو او استادانو ته د بورسونو ورکولو، افغانستان ته د اروپایي هېوادونو استادانو راوستلو او د عصري علومو په برخه کې به له افغانستان سره مرسته وکړي.

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دفتر کاری اش با نمایندگان اتحادیه مدارس، مساجد و مکاتب مسلمانان کشورهای اروپایی دیدار کرد

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دفتر کاری اش با نماینده اتحادیه مدارس، مساجد و مکاتب مسلمانان کشورهای اروپایی دیدار کرد.
سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن خوش آمدید به آنان از نیت و اخلاص ایشان قدردانی نمود.
موصوف در زمینه نظام تحصیلی و استقلال امارت اسلامی معلومات ارایه نموده یک سلسله مشکلات و ضروریات در بخش نظام تحصیلی را با آنان شریک ساخت.
همچنان سرپرست وزیر تحصیلات عالی خواهان همکاری هیئت یاد شده در بخش های تجهیز لابراتوارهای نهاد های تحصیلی، ساخت تعیمرات معیاری و بخش تکنالوژی گردید.
سپس شیخ پروفیسور جوهری نماینده مساجد ، مدارس و مکاتب مسلمانان کشورهای اروپایی و هیئت همراه شان تاکید بر پیشرفت نظام تحصیلی افغانستان نموده، در زمینه اعطای بورسیه های تحصیلی برای اساتید نهاد های تحصیلی و محصلان افغان، اعزام اساتید ورزیده از کشور های اروپایی به افغانستان جهت همکاری در بخش های علوم عصری با افغانستان وعده همکاری نمودند.

## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د خصوصي پوهنتونونو د استازو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب په یوه ناسته کې د خصوصي پوهنتونونو د استازو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل.
د خصوصي پوهنتونونو یو شمېر استازو، چې د دغو پوهنتونونو د اتحادیې اجرائیوي مشر عبدالله عبدالبر یې هم ملتیا کوله، د خپلو پوهنتونونو اړوند یو شمېر ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر سره شریکې کړې.
وروسته د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په یاده ناسته کې وویل: «خصوصي تحصیلي سکټور زموږ د تحصیلي نظام نیم بار پورته کړی دی.» نوموړي د خصوصي پوهنتونونو پر ملاتړ او د هغوی د ستونزو پر حل ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې د خصوصي پوهنتونونو د ستونزو د حل او له هغوی سره د همغږۍ په پار مو یو ګډ کمیسیون ټاکلی دی. دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د خصوصي پوهنتونونو استازو ته ډاډ ورکړ چې د هغوی غوښتنې او وړاندیزونه به اوري او ستونزې به یې حل کوي.

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی پیشنهادات و مشکلات نهاد های تحصیلات عالی خصوصی را استماع نمود

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، طی نشستی پیشنهادات و مشکلات نهاد های تحصیلات عالی خصوصی را استماع نمود.
در این نشست که شماری از نمایندگان نهاد های تحصیلات عالی خصوصی و عبدالله عبدالبر رئیس اجرائیوی اتحادیه نهاد های تحصیلات عالی خصوصی اشتراک نموده بودند، خواست ها، پیشنهادات و مشکلات شان را با سرپرست وزارت تحصیلات عالی شریک ساختند.
سپس سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن استماع خواست ها، پیشنهادات و مشکلات نهاد های یاد شده گفت : « سکتور تحصیلات عالی خصوصی نیم بار نظام تحصیلی ما را به دوش گرفته است. » موصوف بر حمایت و حل مشکلات پوهنتون ها و مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی کشور تاکید نموده اظهارداشت که جهت حل مشکلات نهاد های تحصیلات عالی خصوصی و هماهنگی بیشتر در امور مربوط به آنها، کمیسیون مشترک را نیز ایجاد نموده است.

# Higher Education Weekly

د لوړو زده کړو وزارت
وزارت تحصیلات عالی
Ministry of Higher Education

شماره ۲۴۱ - سال دهم - جوزا - ۱۴۰۲ هـ.ش


# د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو چارو معین د وردگ پوهنتون چارې وارزولې

د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو چارو معین په مشرۍ پلاوي وردگ پوهنتون ته د خپل کاري سفر پر دوام د یاد پوهنتون له استادانو سره ناسته وکړه او ترڅنگ یې اداري کارمندانو او استادانو ته بېلابېل پریزنټېشنونه وړاندې کړل او چارې یې و ارزولې.

یاد پلاوي د وردگ پوهنتون عمومي ارزونې پر دوام د دغه پوهنتون استادانو سره مجلس وکړ او هغوی یې خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړل.

د محصلانو چارو معین مفتي محمد طاهر احمد استادان د ټولنې معماران او د هېواد ځوانانو ته د لید لوري ورکوونکي وبلل او له هغوی یې وغوښتل چې د هېواد د بچیانو سالمې روزنې ته ځانگړې پاملرنه وکړي.

هغه همداراز وویل ((د لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې د ا.ا.ا تحصیلي او تعلیمي نهادونو پرمختگ ته ژمن دی او وخت پر وخت ورته د اسانتیاوو برابرولو ترڅنگ د چارو څارنه او ارزونه کوي، ترڅو نیمگړتیاوې یې حل او غوښتنو ته یې مثبت ځواب ووایو)).

همدارنگه د لوړو زده کړو وزارت د دولتي محصلانو چارو رئیس استاد حامد یعقوبي هم استادانو سره په یاده ناسته کې د استادانو مسؤلیتونو ته په اشارې سره هغوی وهڅول ترڅو د خپل ورسپارل شوي پاک مسؤلیت له مخې د محصلینو حق ادا کړي او محصلینو ته د علم په برخه کې د پرمختگ او مجاهدت احساس ورکړي.

نوموړي دغه راز وویل، چې د تحصیلي نظام پیاوړتیا په موخه د استادانو تجربې او طرحې اړیني دي او باید، چې په دغه برخه کې سره تجربې او طرحې شریکې کړي.

په یاده ناسته کې د وردگ پوهنتون استادانو یو شمېر ستونزې او وړاندیزونه د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو چارو معین سره شریک کړل، چې د نوموړي له لورې ورته د ستونزو د حل او وړاندیزونو د پوره کولو ډاډ ورکړل شو.

د یادونې وړ ده، چې دغه پلاوی د درې کمېټو له لورې، چې د یاد وزارت د محصلانو چارو معین له لورې ټاکل شوي دي اداري او تدریسي مسؤلینو ته د ساده سازۍ، د H.E.M.I.S سیستم او بېلابیلو برخو په اړه معلوماتي پریزنټېشنونه وړاندې کړل او همدارنگه یې د ځانگړو چکلستونو له مخې د استادانو او محصیلینو پر مټ د پوهنتون ارزونه وکړه.

# معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی از امور کاری پوهنتون وردگ نظارت نمود

معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی و هیئت همراه شان به ادامه سفر کاری خویش به ولایت میدان وردگ، ضمن دیدار با استادان و کارمندان پوهنتون وردگ و ارزیابی فعالیت های آنان، پرزنتیشن های مختلف را نیز به آنان ارایه نمودند.

هیئت یاد شده در کنار ارزیابی عمومی بخش های مختلف پوهنتون وردگ، با استادان این پوهنتون نشست های را انجام داده و آنان را متوجه مسئولیت های کاری شان نمود.

مفتی محمد طاهر احمد معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی استادان را معماران جامعه و تعیین کننده گان چشم انداز جوانان این کشور خوانده و از آنان خواست تا در راستای تربیه سالم اولاد این وطن توجه خاص نمایند.

وی همچنان گفت: « وزارت تحصیلات عالی و در مجموع ا.ا.ا به پیشرفت و انکشاف نهاد های تعلیمی و تحصیلی متعهد بوده او هرازگاهی در کنارایجاد سهولت ها، از کارکرد های آنان نظارت و ارزیابی بعمل می آورد.»

به همین ترتیب استاد حامد یعقوبی رئیس امور محصلان دولتی وزارت تحصیلات عالی، با اشاره به مسئولیت های استادان، آنان را تشویق نمود تا وظایف سپرده شده شان را در قبال محصلان شان به خوبی انجام دهند و به آنان در قسمت علم و دانش احساس پیشرفت و مجاهدت را دهند.

نامبرده همچنان اظهارداشت که تقویت نظام تحصیلی کشور به تجارب استادان و طرح ها مفید آنان نیاز دارد بناً لازم است که در این قسمت همکاری صورت گیرد.

در نسشت یاد شده شماری از استادان پوهنتون وردگ یک سلسله مشکلات و پیشنهادات شان را با معین امور محصلان وزارت شریک ساخته که در زمینه معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی وعده همکاری داد.

قابل ذکر است که هیئت یاد شده، طی سه کمیته که از جانب معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی مؤظف شده بودند، به مسئولان بخش های اداری و تدریسی در مورد ساده سازی، و بخش های مختلف سیستم HEMIS پریزنتیشن های معلوماتی ارایه نموده و با استفاده از چکلست ها و همکاری استادان و محصلان پوهنتون مورد ارزیابی قرار گرفت

## د ا.ا.ا د کابینې د پرېکړې پر اساس د تېر حکومت د پاتې طلباتو د ورکړې او تثبیت په موخه د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین په مشرۍ مقدماتي ناسته وشوه.

د غونډې په پیل کې د لوړو زده کړو مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب د اړونده موضوع په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې، د دې غونډې د دائرولو موخه د تېر حکومت د پاتې پروژو د حقوقي او حکمي اشخاصو کوم معاشونه، لگښتونه، تأمینونه او تضمینونه چې د تادیې وړ و د همدغو طلباتو دقیق سنجش او تثبیت وشي.

هغه زیاته کړه: د هغه سند پر اساس چې څه ډول به د طلباتو ورکړه او د تضمینونو او تأمینونو استرداد کیږي د هېواد ټول وزارتونه او اداري مؤظفې شوې ترڅو د همدې سند پر اساس د خپلو پروژو سندونه ترتیب کړي، چې د لوړو زده کړو وزارت هم د ا.ا.ا د کابینې د پریکړې پر اساس نن غونډه دائره کړه.

په یاده غونډې کې له مقدمې وروسته، یوه کمیټه وټاکل شوه ترڅو د پروژو اسناد په جدا ډول ترتیب او بلې عمومي جلسې ته یې وړاندې کړي.

## به اساس فیصله کابینه ا.ا.ا به هدف تثبیت و پرداخت طلبات باقی مانده حکومت قبلی، جلسه مقدماتی کمیته موظف تحت ریاست معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی دایر شد.

در آغاز جلسه مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی اداری وزارت تحصیلات عالی پیرامون موضوع صحبت نموده گفت که هدف از برگزاری این جلسه؛ تثبیت و سنجس دقیق طلبات قابل پرداخت از درک معاشات، مصارفات، تامینات و تضمینات پروژه های باقی مانده حکومت قبلی شرکت ها و اشخاص حقوقی و حکمی می باشد.

وی اضافه نموده گفت: به اساس سند چگونگی پرداخت طلبات و استرداد تضمینات و تامینات وزارت محترم مالیه کشور، وزارت ها و ادارات مستقل مؤظف گردیدند تا مطابق سند متذکره اسناد پروژه های شان را ترتیب نماید که وزارت تحصیلات عالی نیز مطابق فیصل کابیه ا.ا.ا جلسه امروز را دایر نمود.

در جلسه یاد شده بعد از صحبت های مقدماتی، کمیته تخنیکی موظف گردید تا اسناد هر پروژه را به صورت جداگانه ترتیب و به جلسه عمومی بعدی کمیته ارایه نمایند.


**هفته نامه تحصیلات عالی**

صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی

مدیر مسوول: قاری محمد سلیمان شریفی

هیأت تحریر: اختر محمد عبیر، محمد اسلم اسلم و احمد جاوید حکمت

خبرنگاران: کاوون رمز، محب الله امیری

محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی

جمع آوری مواد: محمد اسحاق معصومی

دیزاینر: هادی قدیری

مصحیح: الفت الله حلیم

تیراژ: ۱۰۰ نسخه

سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۶۹۶

وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af

آدرس الکترونیکی: info@mohe.gov.af

## قسمت دوم

# پیشنه تاریخی و معرفی وزارت تحصیلات عالی:

## معرفی مختصر از پوهنځی ها و دیپارتمنت های پوهنتون کابل:

تاریخچه تهداب ساختمان اداری پوهنځی های پوهنتون کابل در سال ۱۳۲۳ گذاشته شده و در سال ۱۳۴۳ پوهنتون کابل به این ساختمان ها انتقال یافت.
در حال حاظر پوهنتون کابل دارای (۲۳) پوهنځی و (۱۰۷) دیپارتمنت می باشد که قرار ذیل به معرفی گرفته می شود:

**زبان و ادبیات داخلی:**
- دری
- پشتو
- اوزبیکی

**زبان و ادبیات لسان های خارجی:**
- انگلیسی
- آلمانی
- فرانسوی
- روسی
- عربی
- هسپانوی
- چینایی
- ترکی

**اداره عامه و پالیسی:**
- اداره عامه
- پالیسی عامه
- مدیریت توسعه و انکشاف

**حقوق و علوم سیاسی:**
- حقوق خصوصی
- حقوق جزا و علوم جنائی
- حقوق عامه
- روابط بین المللی
- حقوق

**کمپیوتر ساینس:**
- تکنالوژی معلوماتی
- سیستم های معلوماتی
- پروگرام نویسی نرم افزار
- پروگرام نویسی

**شرعیات:**
- عقیده و فلسفه
- تعلیمات اسلامی
- فقه و قانون
- ثقافت اسلامی
- تفسیر و علوم قرآن
- دعوت
- اصول فقه

انجنیری:
- مهندسی
- میخانیک
- برق
- سیول
- انرژی
- طرح و برنامه ریزی شهری

تکنالوژی معلوماتی:
- کمونیکیشن
- انجنیری ساینس
- انجنیری مخابرات

**وترنری:**
- کلینیک
- تکنالوژی حفظ الصحه مواد غذایی
- پری کلینیک
- پرورش حیوانات
- پاراکلینیک

**فارمسی:**
- بیوشیمی تغذی
- فارمسیوتیک
- مایکروبیولوژی
- فارمکولوژی
- فارمسی شیمیک
- فارمکوگنوزی

**اقتصاد:**
- امور مالی و بانکی
- اقتصاد ملی
- احصائیه و اکونومتری
- منجمنت و اداره تشبثات
- سیستم های معلوماتی
- محاسبه

**روانشناسی و علوم تربیتی:**
- روان شناسی
- اداره و منجمنت
- پیداگوژی
- مشاوره و رهنمایی
- کار اجتماعی
- پلان و پالیسی

**زراعت:**
- علوم حیوانی
- جنگلات و منابع طبیعی
- هارتیکلچر
- حفاظه نباتات
- اگرانومی
- اقتصاد توسعه زراعتی
- خاک شناسی و آبیاری
- بایو تکنالوژی و تخم های بزری

**محیط زیست:**
- اداره و حوادث
- حفاظت محیط زیست
- منابع طبیعی

**ژورنالیزم:**
- رادیو و تلویزیون
- مطبوعات
- روابط عامه
- ژورنالیزم
- مطالعه و ارتباطات

**علوم اجتماعی:**
- بشرشناسی و باستان شناسی
- فلسفه و جامعه شناسی
- تاریخ عمومی
- تاریخ معاصر افغانستان

**زمین شناسی:**
- هایدرومیترولوژی
- جیولوژی
- جغرافیه

**بیولوژی:**
- بوتانی
- زولوژی

فزیک:
- الکترونیک
- فزیک اومی و هسته یی
- فزیک نظری و عمومی

**ریاضی:**
- ریاضی تطبیقی
- انالیز
- الجبر
- انفورماتیک
- ریاضیات عمومی

**کیمیا:**
- کیمیا عضوی
- کیمیا غیرعضوی
- کیمیا تحلیلی
- کیمیا فزیکی

هنرهای زیبا:
- نقاشی
- تیاتر
- گرافیک و دیزاین
- ادبیات نمایشی
- توتو گرافیک

علوم حیوانی:
- پرورش حیوانات
- پرورش طیور
- تغذیه حیوانی
- جنتیک و اصلاح نسل

**برنامه های دوکتورا و ماستری در پوهنتون کابل:**

**دوکتورا:**
- زبان و ادبیات پشتو ( پوهنځی زبان و ادبیات)
- زبان و ادبیات دری ( پوهنځی زبان و ادبیات)

**ماستری:**
- مدیریت آموزشی ( پوهنځی روانشناسی و علوم تربیتی)
- زبان و ادبیات دری ( پوهنځی زبان و ادبیات)
- زبان و ادبیات پشتو ( پوهنځی زبان و ادبیات)
- زبان و ادبیات عربی ( پوهنځی زبان و ادبیات)
- اداره و پالیسی عامه ( پوهنځی حقوق و علوم سیاسی)
- مدیر عمومی ( پوهنځی حقوق و علوم سیاسی)
- جزا و جرم شناسی ( پوهنځی حقوق و علوم سیاسی)
- روابط بین الملل ( پوهنځی حقوق و علوم سیاسی)
- ماستری اگرانومی ( پوهنځی زراعت)
- ماستری علوم مالداری ( پوهنځی زراعت)
- ماستری IS ( پوهنځی کمپیوتر ساینس)
- ماستری IT ( پوهنځی کمپیوتر ساینس)
- ماستری امور مالی و بانکی ( پوهنځی اقتصاد)
- ماستری اقتصاد ملی ( پوهنځی اقتصاد)
- ماستری اداره و تجارت ( پوهنځی اقتصاد)
- ماستری تفسیر وحدیث ( پوهنځی شرعیات)
- ماستری شریعت و قانون ( پوهنځی شرعیات)
- ماستری هنر ههای تجسمی ( پوهنځی هنرهای زیبا)

موقعیت پوهنتون کابل در دامنه جنوبی کوه علی آباد به فاصله ۵ کیلو متر از مرکز شهر در زمین مساحت ۱۰۰ هکتار زمین اعمار گردیده است.

# د تحصیلي بنسټونو د علمي کادري بستونو اعلانونه

**د هرات پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا !**
هرات پوهنتون لومړي ځل لپاره په لاندې څانگه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:
د انجنیري پوهنځی:
ښاري مدیریت ډیپارټمنټ (۱) بست.
داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۱/۲۳ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۲۳هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا !
کابل پولي تخنیک پوهنتون لومړي ځل لپاره په لاندې څانگه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:
ساختماني پوهنځی :
مهندسي ډیپارټمنټ (۱) بست.
داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۱/۲۳ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۲۳هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا !**
کابل پولي تخنیک پوهنتون د لومړي ځل لپاره په لاندې څانگو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا اویا ماسټرۍ په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:
ساختماني پوهنځی :
ښارجوړوني ډیپارټمنټ (۱) بست.
داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۱/۲۳ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۲۳هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د کابل پوهنتون علمي کادري بستونو خبرتیا !**
کابل پوهنتون دویم ځل لپاره په لاندې څانگه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا، ماسټرۍ او (DVM) په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:
د وترنرۍ علومو پوهنځی :
حیواناتو روزنې ډیپارټمنټ (۳) بسته.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۱/۲۳ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۳هـ.ق پورې یادو علمي کادري بستونو ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**اعلان بست‌های کادری علمی پوهنتون کابل !**
پوهنتون کابل برای بار دوم در سال ۱٤٤٤ هـ ق در رشته ذیل به سویه دوکتور، ماستر و (DVM) به کادرهای علمی جدید ضرورت دارد.
پوهنځی علوم وترنری :
دیپارتمنت پرورش حیوانات (۳) بست.
متقاضیان از تاریخ۱٤٤٤/۱۱/۲۳ الی ۱٤٤٤/۱۲/۳هـ ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

**د پکتیا پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا !**
پکتیا پوهنتون لومړي ځل لپاره په لاندې څانگه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:
د کرنې پوهنځی:
اگرانومي ډیپارټمنټ (۱) بست، نارینه وو لپاره.
داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۱/۲۸ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۱۵هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**اعلان بست کادری علمی پوهنتون پکتیا !**
پوهنتون پکتیا برای بار اول در سال ۱٤٤٤ هـ ق در رشته ذیل به سویه دوکتور و ماستر به کادرعلمی جدید ضرورت دارد.
پوهنځی زراعت :
دیپارتمنت اگرانومی (۱) بست، برای قشر ذکور.
متقاضیان از تاریخ ۱٤٤٤/۱۱/۲۸ الی ۱٤٤٤/۱۲/۱۵هـ ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

# سرلیکنه

## د کانگو تبې په اړه د عامه پوهاوي په برخه کې د تحصیلي بنسټونو ژمنتیا

بشر له پیدایښته بیا تر نن ورځې د ویروسونو او باکتریاوو تر گواښ لاندې دی، وخت نا وخت ویروسونو او باکتریاوو په میلونونو کسان ناوړغ او وژلي دي، چې COVID۱۹ ویروس یې یوه بېلگه ده، بشر یې پر وړاندې د مبارزې هڅه کړې ده.

تېره اونۍ د «انسان او حیوان گډو ناروغیو (زونوز) په ځانگړې ډول کانگو تبې پر وړاندې د مبارزې لارې او گواښونه» تر عنوان لاندې په کابل پوهنتون کې علمي سمینار ترسره شو، په دې علمي سمینار کې د کانگو تبې او د هغې پر وړاندې د مبارزو پر لارو خبرې وشوې. یاد کنفرانس ته د کابل ولایت له بېلابېلو ناحیو څخه قصابان، د ناحیو امرین، د گذر وکیلان، د ښوونځیو مدیران او ... راغلي وو.


د هېواد بېلابېل تحصیلي بنسټونه د وترنرۍ پوهنځی لري چې د حیواني او د انسان او حیوان ترمنځ گډې ناروغۍ (زونوز) په اړه د څېړنې دنده پر غاړه لري او وخت نا وخت یې په دې اړه څېړنې او د عامه پوهاوي لپاره علمي سمینارونه دائر کړي دي. همدا عامه پوهاوی د رسنیو، د جوماتونو امامانو، قصابانو، د کرنې او مالدارۍ وزارت، ښاروالۍ، روغتیا وزارت او ... له لارې تولو ته رسېږي، تر څو هېوادوال د ناروغیو له گواښونو خبر او خپل ځان وساتي.

لوړو زده کړو وزارت د افغانستان د ځوانانو د تحصیل ترڅنگ د څېړنې او عامه پوهاوي دندې هم پر غاړه لري، چې د څېړنې په برخه کې یې په ټولو تحصیلي بنسټونو کې څېړنیز معاونیتونه رامنځته کړل تر څو په هېواد کې د د ستونزو د حل په موخه څېړنې وکړي او د عامه پوهاوي په برخه کې یې کله نا کله دا او دې ته ورته علمي سمینارونه او علمي کنفرانسونه رامنځته کړي دي.

دغه وزارت په ټولو تحصیلي بنسټونو کې د ورته څېړنیزو موضوعاتو د دائرولو هوډ لري او دا خپله دنده او مکلفیت گڼي ترڅو هېوادوالو ته گواښونو په اړه عامه پوهاوی ورکړي.

په درنښت
اداره

# نبوي سیرت صلی الله علیه وسلم




## د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم محترم پلار عبدالله

د عبدالله مور فاطمه بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن یقظه بن مروه. د عبدالمطلب په اولادونو کې عبدالله تر ټولو ښکلی، شریف، غوره او ټولو ته گران، او په ذبیح سره مشهور و. ذبیح یې له دې امله بالـه کله چې د عبدالمطلب زامن پوره لس شول او ټول ځوانی ته ورسیدل، نور یې د ده ملاتړ او دفاع کولی شوی، نو له خپل هغه نذر نه چې ایښی یې و خبر کړل، زامنو یې خبره ورسره ومنله. عبدالمطلب د دوی ټولو نومونه د پال په غشو ولیکل او بیایې د هبل مینجور ته ورکړل، مینجور غشي سر گډ کړل او بیایې یو ورنه راویوست که گوري د عبدالله نوم راوتلی دی، نو عبدالمطلب چاړه راوخیسته، خپل زوی ( عبدالله) یې راونیو تر څو کعبې ته یې بوزي او هلته یې ذبح کړي، خو قریشو خصوصا د عبدالله ماما خپلو او ورور یې ابو طالب عبدالمطلب لدې کارنه منع کړ. عبدالمطلب ورته وویل: نو چاره څه ده؟ زه خپل نذر څنگه ادا کړم؟ دوی ورته وویل: له فلانۍ عرافې ښځې نه پدې هکله مشوره وغواړه. عبدالمطلب عرافې ته ورغی هغې ورته وویل چې د عبدالله او لسو اوښانو تر مینځ قرعه اندازي وکړه، که د عبدالله نوم راووت، نو لس نور اوښانو وربانديې ورزیات کړه، پدې ترتیب سره لس، لس ور زیاتوه تر څو خدای راضي شي او د اوښانو پچه وخیژي. پدې ترتیب سره هغه راغی، د عبدالله او لسو اوښانو تر مینځ یې پچه واچوله، د عبدالله نوم راووت، نو عبدالمطلب لس نور ورزیات کړل، خو بیا هم د عبدالله نوم راووت، نو لس، لس یې ورزیاتول تر څو سل اوښان پوره شول بیا د اوښانو پچه وختله، عبدالمطلب دا سل اوښان د عبدالله په ځای حلال کړل او همداسې یې واچول هر چا چې ورل یې، نه یې انسان ترینه منع کاوه او نه حیوان. لدې پیښې نه مخکې په عربو او قریشو کې د دیت بیه لس اوښان وه خو لدینه وروسته سل اوښان شوه، اسلام هم همدا سل اوښان تایید کړل. له رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) نه په روایت کې راځي چې فرمایې: (انا ابن الذبیحین) [زه د دوو ذبیحانو یعنی اسماعیل (علیه السلام) او عبدالله زوی یم].

عبدالمطلب خپل زوی عبدالله ته آمنه بنت وهب بن عبدمناف بن زهره بن کلاب په نکاح کړه. آمنه هغه وخت په قریشو کې د نسب او مقام له پلوه تر ټولو غوره ښځه وه، پلار یې د نسب او شرف له پلوه د بني زهره مشرو، د عبدالله او آمنې واده په مکه کې تر سره شو، خو لږه واده نه څه موده وروسته عبدالمطلب هغه مدینې ته واستاوه تر څو دوی ته خرماوې راوي. عبدالله لاړ او هملته مدینه کې وفات شو، او ځنې وایي: چې عبدالله د تجارت لپاره شام ته تللی و، او بیرته د قریشو له یوه کاروان سره راتله چې مدینې ته راورسیدل عبدالله مریض او بیا هملته د ۲۵ کلو په عمر وفات شو، او د النابغه الجعدي په کورکې خاورو ته وسپارل شو. هغه وخت رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) نه و زیږیدلی، که څه هم ځنې روایتونه وایي چې عبدالله د رسول اکر (صلی الله علیه وسلم) له میلاد نه دوې میاشتې وروسته وفات شوی دی. خو زیاتره مورخین لومړنی نظر تاییدوي اوو کله چې د عبدالله د مړینې خبر مکې ته راورسید نو آمنې د ده په مرثی کې دا شعر وواېه:

عفا جانب البطـــــحاء من ابن هاشـم
وجاورلحدا خـارجـا فـي الغـماغم
دعـته المنـايـا دعـوة فـأجـابـــها
و ما ترکت في الناس مثل ابن هاشم
عشـــية راحـوا يحـــملون سـريره
تعاوره اصـحــابــه فـي الـتـزاحــم
فان تک غـالتـــه المـنايا و ريـبها
فقد كان معـطاء كثـير الـتراحـم

ترجمه:[ د بطحا غیږ د هاشم ل زوی نه خالي شوه، هغه د آوازونو او ژړاگانو (غوغا) په مینځ کې د لحد ملگری شو، مرگي وغوښت هغه هم دې بلنې ته لبیک وواېه، اوس مرگي د خلکو په مینځ کې د ابن هاشم د زوی په شان څوک نه دي پریښي، ( ځومره غمجن و) هغه ماښام چې خلکو د ده کټ په اوږو اخیستئ، که څه هم مرگ او د مرگ حوادثو هغه ختم کړ ( خو د هغه د کړو یاد به تل وي) هغه ډیر پوه، رحیم او سخي سړی و.]

د عبدالله ټول میراث پنځه اوښان، یوه رمه ( یوشمیر) میږې او یوه حبشي وینځه وه چې نوم یې برکه او کنیه نوم یې او ایمن و، او دا هغه ام ایمن ده چې رسول اکرم ( صلی الله علیه وسلم) به یې په غیږ کې گرځاوه پالنه به یې کوله.

**انشاء الله په راتلونکې گڼه کې: نیکمرغه میلاد...**